**بسم الله الرحمن الرحیم**

**(ژباړه)**

**په اسلام کې جګړه‌ییز سیاست**

له انس بن مالک رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«انْطَلِقُوا بِاسْمِ اللَّهِ وَبِاللَّهِ وَعَلَى مِلَّةِ رَسُولِ اللَّهِ وَلَا تَقْتُلُوا شَيْخاً فَانِياً وَلَا طِفْلاً وَلَا صَغِيراً وَلَا امْرَأَةً وَلَا تَغُلُّوا وَضُمُّوا غَنَائِمَكُمْ وَأَصْلِحُوا وَأَحْسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ *الْمُحْسِنِينَ.*»** رواه ابو داود.

*__ژباړه:__ د الله سبحانه وتعالی په نامه، د الله تعالی د رضا لپاره او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دین پر اساس د جهاد په لوري حرکت وکړئ، زوړ سړی، ماشوم او ښځه مه وژنئ، خیانت مه کوئ، خپل غنیمتونه راټول کړئ، خپلې چارې اصلاح کړئ او نیکي وکړئ؛ ځکه الله سبحانه وتعالی نیکي کوونکي خوښوي.*

(لَا تَقْتُلُوا شَيْخاً فَانِياً) زوړ سړی مه وژنئ؛ خو دا چې جنګیالی وي او یا د لښکر لپاره نظر ورکوي. لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم امر وکړ، چې زید بن صمه ووژني، په داسې حال کې چې عمر یې ۱۲۰ کاله او یا تر دې هم ډېر و؛ ځکه هوازن لښکر ته د نظر ورکولو له امله راغلی و.

(**وَلَا طِفْلاً وَلَا صَغِيراً**) یعنې هغه هلک مه وژنئ چې تر اوسه بالغ شوی نه دی، خو دا چې پاچاه وي او یا یې په جګړه کې ګډون کړی وي. (**ولَا امْرَأَةً**) ښځه مه وژنئ، خو دا چې جنګیالۍ او یا ملکه وي؛ (**وَضُمُّوا**) راټول کړئ؛ (**وَأَصْلِحُوا**) خپلې چارې اصلاح کړئ؛ (**وَأَحْسِنُوا**) پخپلو کې نېکي وکړئ!

د جګړې سیاست په داسې شرایطو کې د جګړې چارو ته رسیده‌ګي ده، چې د مسلمانانو د بریا او د دښمنانو د ماتې او ذلت لامل کېږي. دا په داسې حال کې ده چې د یو خاص عمل د ترسره کېدو په اړه کوم ځانګړی نص نه وي راغلی، خو که چېرې ځانګړی نص راغلی وي، د هغه کار ترسره کول بیا د جګړې د سیاست په پلمه جایز نه دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د ښځو، ماشومانو او زړو سړیو له وژلو څخه نهی کړې ده، لکه څنګه چې په حدیث شریف کې بیان شوي دي؛ خو رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغو ښځو، ماشومانو او زړو سړیو وژل جایز بللي، چې کفارو ته د رسېدو لپاره د هغوی له وژلو پرته بله لاره نه وي، ځکه که ماشومان او ښځې له سړیو سره یو ځای وي، د منجنیق او توپ په وارولو سره په نښه کېږي. په "صحیح البخاري" کې راغلي چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وشوه، که چېرې مسلمانان د شپې له خوا پر کفارو برید وکړي، ښځې او ماشومان په ناپامۍ کې په نښه شي، څه حکم لري؟ هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې هغوی هم د کفارو له ډلې څخه دي، د زاړه سړي دغه ډول وژل چې د کفارو لپاره ګټور او د مسلمانانو لپاره مضر وي، جایز دي؛ ځکه د حدیث شریف په شرحه کې د زید بن صمه د وژلو یادونه شوې ده.

**لیکوال: ابو مریم**

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**